مصطفی پسرلی
۲۰۱۹/۰۵/۳۱

# غزل

د پتو خولو په پټ رازونو پوه شوم
په هر یو طرز د وحشتونو پوه شوم

څوک مې په خوب، څوک مې په وینه وژني
زه د مرګونو په رمزونو پوه شوم

ټوپک پردی او هم مرمۍ پردی دي
د پردي جنګ په تاوانونو پوه شوم

د قلم څوکه چې په وینو رنګ شوه
اوس په ارزښت د کتابونو پوه شوم

د مینې بوی چې په وجود کې ورک شو
نو په تاوان د نفرتونو پوه شوم

د پسرلي عمر چې خوشي تېر شو
هله د منې په رنګونو پوه شوم

مصطفی پسرلی
28/05/2019


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ